UNAMA
SRSG Briefing
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

# د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د عمومي منشي ځانګړې

# استازی ښاغلی تدامیچي یاماموتو لنډ ګزارش

*[څرنګه چې وړاندې شوی]*

## نیویارک، ۱۹ ډسمبر ۲۰۱۶

***

ښاغلي رئیس، او د امنیت شورا درنو غړو،

د ملي یوالې حکومت خپله دویمه کلېزه خپل د سمونونو د اجنډا د پرمختګ او د عامه خدمتونو د چمتو کولو د هڅو سره ولمانځله.

زه په افغانستان کې، د امنېتي ننګونو او یو لړ چټک سیاسي بدلونونه پر خلاف، هیلې او فرصتونه وینم.

د افغانستان حکومت د وارسا په ناسته کې او د بروکسل په کنفرانس کې خپل یوالې وښودله او د امنیت، پراختیا او سمونونو لومړیتوبونو ته خپل ګډ ژمنتیا باندې ټینګار وکړل. همدارازد افغان حکومت مشران د سمونونو د اجنډا د پرمختګ لپاره د خپل منځي توپیرونو د لمنځه وړلو په موخه کار ته دوام ورکړي دي. د نړیوالې ټولنې پیغام، چې په لوړه کچه، استول شوي وو دا خبره یې واضح کړه چې افغانستان په یوازي ډول نشي دریدلې. د امنیت او پراختیا په ډګرونو کې دواړه، د نړیوالې ټولنې ستره مالي مرسته افغانستان ته دا ځواک ورکوي چې ځان بسیاینې او ټیکاو ته ورسېږي.

زه د ټولټاکنو د ادارو د بیا تشکیل او جوړولو هرکلی کوم چې لازمه ده د ټولټاکنو د سمونونو او د ټولټاکنو لپاره تیاري دندې پر مخ بوځي. په دیموکراتیک پروسو کې د دا ډول ګامونو اخیستل د خلکو د باور د بېرته راژوندي کولو کې یو مهم فرصت رامنځته کوي. د اداري فساد پر ضد عدلي مرکز، د محاکمه کولو پروسه یې پیل کړی دی چې د اداری فساد سره د مبارزی په برخه کې د حکومت جدي هوډ څرګندوي. ولسي ټرون پدې موخه تدوین شوی دی تر څو یې وزلې له منځه یوسې او د افغانستان ولس ته د خدمتونو وړاندې کولو لپاره لا منظم تګلاره رامنځته کړي.

UNAMA SRSG Briefing | UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

ښاغلي رئیس،

افغان اتباع په زیات شمېر سره بېرته کورته راستنېږي. یوازې په تېرو شپږ میاشتو کې هېواد ته د پاکستان او ایران هېوادونو څخه په سلګونو زره کډوال بېرته راغلي دي. دا پداسې حال کې ده چې هېواد ته بېرته راستنېدونکي خلک ته ښه راغلاست ویل کیږي، په دننه هېواد کې د داخلي بېځایه شویو وګړو سره یو ځای د یو نا معلوم راتلونکي سره مخ دي، چې یوازی سږ کال کابو نیم میلیون وګړي په داخلي ډول سره بېځایه شوي دي.

سږ کال کې کابو یو نیم میلیون وګړي په خوځښت کې دي او داسې ښکاري  چې نوی کال کې هم ورته شمېر خلک به راشي. د داسې ډول یو ستر شمېره کچه به الزاماً پر اقتصاد او ټولنیز خدمتونو باندې سخت فشار وارد کړي او د کار موندونکو شمېر هم لا نور به زیات کړي.

زه ده ملګرو ملتونو د بې ځایه شویو او بېرته راستنېدونکي وګړو د ژوند ژوغورنې د سمدستي مرستو د چمتو کولو غوښتنې له امله د نړیوالې ټولنې چټک غبرګون هرکلی کوم. همداراز زه هغه فعالیتونه ستایم کوم چې د حکومت لخوا د داسې پروګرامونو د پلي کولو لپاره ترسره کیږي تر څو داخلي بېځایه شوي وګړي او همدارنګه بېرته راستنېدوکې وګړي وکولاي شي هم په اقتصاد کې او هم په خپلو ټولنو کې مدغم شي.

که چېرې موږ غواړو چې نور زیات خلک په مطلق بې وزلې کې ډوب نشي نو باید د بیا ادغام لپاره اوږد مهاله اړتیاو ته په بېړنې ډول سره رسیدګې وشي. د بېرته راستنېدونکو کچه د نړیوالې ټولنې لا زیات مرسته او ملاتړ غوښتنه کوي او همدارنګه د موجوده مالې سرچېنو کې لا زیات انعطاف رامنځته شي. همدارنګه موږ باید ډیره هڅه وکړو تر څو ډاډمن شو چې بېرته راستنېدنه په بشپړه خوښه ده او د بېرته راستنېدو بهیر او پروسه په وقار او درناوی سره ترسره کیږي.

ښاغلی رئیس،

بېرته راستنېدونکي افغانستان ته د هیلو سره راځي. که څه هم نړیواله ټولنه او حکومت په پرله پسې توګه هڅه کوي، خو یو ښه راتلوکې د سولې څخه پرته ممکنه نده.

په ۲۰۱۶ کال کې د شخړو له امله په زرګونه افغان وګړي وژل شوي دي او لسګونه زره نور وګړي ژوبل شوي دي. یو دا ډول انسانې تراژېدې او مصیبت د منلو وړ ندی.

دا ډول شخړه د وګړو د ژوندانه چارو وضعیت خرابوي او د پرمختګ و ودې لپاره فرصتونه لمنځه وړي. په اقتصادی پانګونه کې سږ کال موږ د ۵۰ سلنې کمښت شاهدان وو، هغه پدیده چې د یو با ثبات راتلونکي لپاره ډیره مهمه ده. د سولې په نشتوالې کې نړیواله ټولنه نشي کولاي خپل مرستې او ژمنې په بشپړ پیمانه سره پکار واچوي. کوم سرچېنې چې د شخړو په ډګر کې کارول کیږي، کیدای شې د افغانستان د اقتصاد په ډګر او همدارنګه د دغه هېواد د سوکالې لپاره وکارول شی.

UNAMA
SRSG Briefing
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

ښاغلی رئیس،

موږ ټول پوهیږو چې په افغانستان کې شخړه نظامې حل لاره نلري.

زه یو ځل بیا پر طالبانو غږ کوم چې د افغان حکومت سره په نېغه د خبرو اترو ته، پرته له شرطونو څخه، ژمن شي. طالب مشران باید پر دې بیا غور وکړي چې دوي کولاي شي خپلې موخې د شخړې د ډګر له لارې ترلاسه کړي.

د افغان وګړو د هېواد راتلونکې د ګواښ سره مخ دی. آیا اوسنې توپېرونه په واقعیت سره د پخلاینې وړ ندې؟ آیا واقعاً پخلاینه او همغږي ممکنه نده؟

ټول افغان ولس باید سره را ټول شي او خپل پر خنډونو باندې کار وکړي، او د خپل ګډ راتلونکې پخاطر د خپل توپېرونو لپاره د سازګاری لاره ومومې.

دا د متقابل ګټو لاره ده او د ټولو لپاره ستر لومړیتوبونه دي. د سارې په ډول د ملکي وګړو د تلفاتو د کمولو مسله ده چې اوس شتون لري. د دا ډول ګډ ګټې شتون د خبرو اترو د پیل لپاره انګېزه ده.

د افغان ولسو زیاته برخه پدې آند دې چې د دوي هېواد باید یو خپلواک، یوموټی او اسلامې هېواد وي چې په هغه کې د بهرنیو هېوادونو مداخله او لاسوهنه شتون ونلري.

پر بیستېزو اصولو باندې یو داسې ابتدایی تړون باید وکولای شي د سولې توافق ته رسیدل ممکن کړي، تر هغه مهاله چې د سېمې هېوادونه دې ته چمتو شې چې دوی خپل مثبته ونډه او ملاتړ ترسره کوي.

ښاغلی رئیس،

د سولې پروسې ته د داخلېدو لپاره زړورتیا پکار ده، چې د ماتې په مفهوم ندی، بلکې د واقعیتونو پېژندنه ده. یو بې پایه جګړه یو هېواد لمنځه وړي او د هغې پر وګړي باندې ناوړه اغیزه کوي. د یو با مفهومه سولې لپاره افغانان یوه لاره لري چې هغه هم د سولې خبرې اترې دي.

پروسه په تدریجي ډوله سره عامشموله وي او د ټولنو ټول افغانان، د ښځو او ځوانانو په ګډون، په هغه کې برخه ولري. ښځې په ځانګړي ډول سره کولاي د تل پاتې سولې په رامنځته کولو کې ښه ونډه ولوبوي.

د اسلامې ګوند سره د سولې تړون وښودله چې حکومت تیار دې تر څو په مهمو مسلو کې، لکه د بندیانو آزادول، د بندیزونو لېرې کول، او د افغانستان په سیاسي چاپېریال کې د ادغام په اړوند خبري وکړي. د یو داسې تړون لاسلیکول د هغه د اداري جدیت روښانه کوي. د تړون بریالی پلې کول باید نور شکونه لمنځه یوسې، د افغان وګړو د یو موټي کېدو سره مرسته وکړي، او د نورو سوله ییزو تړنونو لپاره لاره هواره کړي.

UNAMA SRSG Briefing | UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

زه لدې امله چې حکومت ډاډ ورکړي چې د سولې د تړون په پلې کولو کې د افغان وګړو د حقونو پر سر، د بشري حقونو څخه د جدې تېرو او د قربانیانو د حقونو په ګډون، به جوړجاړی ونشي، خوشحاله یم.

ښاغلی رئیس،

سوله او ټيکاو یوازی د افغانستان لپاره ګټه وره نده بلکې د سیمې هېوادونه هم د اقتصادی پلوه د دغو ګټو څخه برخمن شي. زه د سیمې د هېوادونو د فعالې ونډې څخه ډېر هڅول شوی یم چې د افغانستان سره د ټولنېز اقتصادی او بشری سرچېنو او پراختیا کې به مرسته وکړي. د سیمه ییزو پر زېربناو پراختیا کې به رغنده پانګونې وشي. په دغه برخه کې د هندوستان په هېواد امرتسر ښار کې چېرې چې سیمه ییز هېوادونه هوکړه کړی چې د ترهګری پر خلاف خپله همکارې زیاته وي، د آسیا د زړه د هېوادونو د وزیرانو غونډه کې ښې پایلې یو مثبت پرمختګ دی.

نو آیا موږ نه شو کولاي په افغانستان کې د اوږد مهالې شخړی له امله بشری کړوانو پای ته رسولو کې نور څه هم ترسره کړو؟

زه د سیمې د هر یو هېواد څخه غواړم چې له ځان څخه وپوښتي چې د افغانستان او په سیمه کې د سولې لپاره یو مناسب فضاء رامنځته کولو کې نور څه کولای شي. د همکاري لپاره ډېر محرکونه او ډګرونه شته چې د سیمې هېوادونه کولاي په هغه کې د سولې د امکاناتو د ښه کولو لپاره ګام واخلې، د ساري په ډول، د مشورو زیاتول، د معلوماتو تبادله کول او د وګړو سره وګړې اړیکه نیول.

ښاغلی رئیس،

په پای کې زه د افغانستان په مشری د سولې د پروسې په اړوند د سیمې هېوادونو د مثبت پیغامونو له امله هڅولو شوي یم، او زه د دغو مثبتو پیغامونو پایلو ته سترګې په لار یم. موږ، ملګري ملتونه او نور ټول اړوندو خواو په همکاری سره، په افغانستان کې د سولې لپاره کار کولو ته ژمن یو.

ستاسو څخه ډېره مننه.

***

*یوناما له افغان ولس او دولت سره مرسته کوي څو سوله او ټيکاو ترلاسه کړي. د یوه سیاسي ماموریت په څېر د هغې له صلاحیت سره سم، یوناما د شخړو په مخنیوي او حل کې مرسته کوي، شمولیت او ټولنیزې همغږۍ ته وده ورکوي او دغه راز سیمه ییزه همکاري غښتلې کوي. ماموریت د اغېزمن حکومتولۍ ملاتړ کوي، ملي مالکیت او حساب ورکوونکو ادارو ته وده ورکوي کوم چې بشري حقونو ته د درناوي پر بنسټ جوړې شوي دي. یوناما د شخړې د رامنځته کیدو، زیاتیدو یا پراخیدو د مخنیوي په موخه د هغو ډیپلوماتیکو ګامونو په ګډون چې د ادارې پر خپلواکۍ، بې پرېتوب او ریښتینوالۍ متکي دي، د ښه نیت هڅې او نور کلیدي خدمتونه وړاندې کوي. ماموریت د افغان پراختیا او بشري لومړیتوبونو لپاره د نړیوال ملاتړ همغږۍ کوي.*